ګابریل ګارسیا مارکز
ژباړن: احسان الله اړینزی

۲۰۲۶/۰۲/۰۷

# هغه ښځه چې په شپېږو راغله

ور ببرته شو. په (خوزه رستوران) کې هېڅوک نه و. شپږ بجې شوې. سړی په دې پوهېده چې تر شپږ نیمو پورې ځوک نه راځي؛ خو ښځه د شپږو له زنګه مخکې راغلې او پټه خوله ناسته وه. یو سګرټ یې په خوله کې و ، چې لا یې لګولی نه و.
خوزه چې کله ښځه ولیده، وویل: سلام ملکې. د میز بلې خوا ته لاړ او په زاړه ټوکر یې پاک کړ. هر وخت به چې ځوک رستوان ته راغلل، خوزه به همدا کار کاوه. د خوزه رستوران چاغ او سور- سپین خاوند، به حتی د دې ښځې په مخکې چې څه نا څه یې سره پېژندل، ځان د هرې ورځې په شان فعال ښوده. اوس یې خبرې پېل کړې.
- نن څه خورې؟
ښځې وویل:
-لومړی به دا زده کړې چې ځنګه د یو ښاغلي په شان چلند وکړې .
ښځې خپل ځای بدل کړ. کېناسته، ځنګلې یې په میز کېښودی. سګرټ یې لا هم په شونډو کې نیولی و. کله چې به یې خبرې کولې. خپلې شونډې به یې په دې هیله ټولې کړې، چې خوزه سګرټ ووینې.
خوزه وویل:
- پام مې نه و.
ښځې وویل: تر اوسه په دې نه پوهېږې چې څه شي ته دې پام شي.
خوزه زوړ ټوکر کېښود. مخامخ تورې الماری ته ورغي او د اورلګېد ډبلی یې راووړ. ښځې سر ټیټ کړ چې خپل سګرټ په هغه لمبه ولګوي، چې د خوزه په لاسونو کې ایساره وه. خوزه د ښځې ګڼ ویښته ولیدل چې په ارزانه پارافینو غوړ شوي وو. بیا یې د ښځې تیو ته وکتل. د ښځې تي په یوه نازکه سره ټوټه کې پټ وو. کله چې ښځې سر پورته کړ، خوزه د ښځې د تیو سرونه ولیدل. د سګرټ لوګی اوس سم پورته کېده.
خوزه وویل:
- نن ښایسته شوې یې ملکې!
ښځې وویل:
- دا خبره پرېږده. فکر مه کوه چې په دې خوږو خبرو به پیسې درکړم.
خوزه وویل:
- کوم هدف نه لرم ملکې. سهارنۍ به دې سمه نه وه!
ښځې د سګرټ لوګي کړۍ کړۍ پو کړل. ځنګلې یې لا هم په میز وې. د رستوران له کړکۍ څخه یې بهر ته وکتل. غمجنه شوه. د بلې هرې ورځې غمجنتوب په شانې.
خوزه وویل:
- یو خوندور ستېک به درته پوخ کړم.
ښځې وویل:
- تر اوسه مې لا پیسې نه دي ګټلې.
خوزه وویل:
- تا دا دوه درې میاشتې څه شی نه دي ګټلي؛ خو زه هره ورځ خوندور خواړه درکوم.
ښځې چې لا هم بهر ته کتل، وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

- نن بله ورځ ده!
خوزه وویل:
- ورځې تولې يو شان دي. هره ورځ په شپږو بجو ته دلته راځی او وايي داسي وړی يم چي بېسده کېږم. بيا زه درته يو شی پخوم. هو نن تا نه دي ويلي چي بېسده کېږی. زه هم دا توپير وينم!
ښځي وویل:
- هو همداسي ده.
ښځي خوزه ته وکتل، چي هلته ليري يې څه کار کاوه.
ښځه څو شېبي خوزه ته ځير شوه. بيا يې په ديوال ځوړندې ګړی ته وکتل. درى له شپږو تېرې وې او وې ويل:
- هو نن توپير لري.
د سګرټو لوګي يې پرېښود او په ښکاره ناز يې وويل:
- خو زه نن په شپږو ته يم راغلې؛ ځکه وايم خوزه چي نن توپير شته.
خوزه د خپل لاس ګړی ته وکتل.
- که دا ګړی لږ هم شا ته پاته وي، زه به خپل لاس غوڅ کړم.
ښځي وويل:
- زه نه دا وايم خوزه. زه وايم چي زه نن دلته په شپږو نه يم راغلی.
خوزه وویل:
- پوره شپږ ملکي. کله چي ټک ټک شپږم غږ وشو، ته راغلې!
ښځي وویل:
- زه اوس يو پاو کېږي چي دلته يم.
خوزه په داسي حال کي د ښځي خوا ته ورغی، چي يوه سترګه يې په ګوته پاکوله.
- آه وکړه چي زه دي خوله بوی کړم.
ښځه شا ته شوه. کراره ناسته وه. لږ په غوسه وه. د ستومانئ په توسن ښايسته ښکارېده.
- خوزه حماقت بس کړه. ته پوهېږی چي ما دا شپږ مياشتي شراب نه دي څښلي.
خوزه وویل:
- دا خبره بل چا ته وکړه. زه ډاډه يم چي تا يو دوه ګيلاسه په سر اړولي!
ښځي وویل:
- له يو ملګري سره مي دوه څښلي.
خوزه وویل:
- هو. اوس دي رښتيا وويل:
ښځي وويل: زه يو پاو کېږي چي دلته يم.
خوزه اوږې پورته وغورځولې.
- سمه ده. که ته غواړې چي داسي وي، وي دی. ته پاو کم شپږ دلته راغلې. څه توپير به ولري. لس دقيقي پاته يا تېرې!
ښځي وويل:
- ډېر توپير به ولري خوزه.
لاسونه يې د تسليمئ په شان په ميز کېښودل او ويې ويل:
- غوښتل نه دي خوزه. زه له پاو کم شپږو دلته يم.
بيا يې د ديوال ګړی ته وکتل او خپله خبره يې سمه کړه.
- دا څه وايم. شل دقيقي پاته وې!
خوزه وویل:
- خير دي وي ملکي. ته پوره شپه او ورځ دلته وې. اوس به خوشاله شوې يې!
د دې خبري په بهير کي خوزه په ځای نه و ولاړ، دې خوا ها خوا به تلو او شيان به يې ځای په ځای کول.
بيا يې وويل:
- اوس خوشاله شوې؟
ناڅاپه ودرېد، ښځي ته يې وکتل او ويې ويل:
- ستا د پاره مړ يم!
ښځي بېخونده ورته وکتل.
- نه، نه! ووايه چي زه مړه شم. خوزه ته فکر کوې چي بيا به د يو مليون پزو د پاره درسره لاړه شم؟
خوزه وویل:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ

- نه داسي خبره نه ده ملکي، لکه چي سهارنيو ښځو خرابه کړې يې!
ښځي وويل:
- نه دا بېله خبره ده.
لکه چي خوزه ته يې ډېر فکر نه و؛ خو ويې ويل:
- هېڅ ښځه ستا درنوالی نه شي پورته کولای! په يو مليون پزو هم!
خوزه سور شو. ښځي ته يې شا کړه. د الماري په پاکولو بوخت شو او ويې ويل:
- نه د زغم وړ نه يې ملکي. ښه به دا وي چي خپل ستيک وخورئ او لاړه شي.
ښځي وويل:
- وږې نه يم.
بيا يې بهر ته وکتل او هغه خلک يې وليدل چي لور په لور تلل. ځو شېبې ژوره چوپتيا برلاسي شوه.
په دې چوپتيا کې د خوزه د کار غږونه بد لګېدل. ښځي خوزه ته سترګي واړولي او په نرمه او خوندوره ژبه يې وويل:
قسم وکړه [1]چي درباندي ګرانه يم!
خوزه پرته له دې چي دې ته وګوري وويل:
- هو.
ښځي پوښتنه وکړه!
- زما له دې بېخونده خبرو سره – سره!
خوزه پرته له دې چي دې ته وګوري وويل:
- کومي خبرې؟
ښځي وويل:
- دا يو مليون پزو!
خوزه وويل:
- ما دا خبرې هېرې کړې.
ښځي وويل:
- خې درباندې ګرانه يم!
خوزه وويل:
- هو!
بيا يوه چوپتيا خوره شوه. خوزه په رستوران کي تلو او راتلو او ښځي ته يې کتل. ښځي بيا سګرت ته پوکی ورکړ.
دواړه ځنګلي يې په ميز ولګولي، خپله شونډه يې په غاښ ونيوه، لکه خوزه ته چي په غوږ کي څه وايي.
- که درسره لاړه هم نه شم!
دا وخت خوزه ښځي ته ځير شو.
- دومره را باندې ګرانه يې که را هم نه شي خير دی!
بيا د ښځي په لور ورغی. دواړه خيرې يې ښځي ته مخامخ په ميز ولګولي، د ښځي سترګو ته ځير شو او ويې ويل:
- دومره راباندې ګرانه يې چي هره شپه غواړم، هغه نارينه چي درسره غاړه غړی وي، توټې توټې کړم.
ښځه لومړی اريانه شوه، بيا يې په ځير خوزه ته وکتل. نه پوهېده چي زړه يې پرې وسوځېد، که سړی جدي ورته ښکاره نه شو. زړه نا زړه چوپ شوه او بيا يې په کړس کړس وخندل.
- خوزه دا رخه( حسودي) ده. دا کار مه کوه. رخه سړی خوری!
خوزه لکه يو ماشوم چي ناوړلي خبرې يې کړې وي، له شرم او ويرې سور شو او ويې ويل:
-ملکي نن سمه په سر نه ښکارې!
خپل مخ يې په خپل زاړه توکر پاک کړ او ويې ويل:
- دا د سپي غوندې ژوند ګډه وډه کړې يې!
اوس د ښځي څېره بل ډول ښکارېده او ويې ويل:
- غواړې ووايې چي؟
او خپلي روڼي سترګي يې نارينه ته واړولي. لکه جګړې ته چي چمتو شوې وي!
- غواړې ووايې چي رخه نه لرې!
خوزه ځواب ورکړ:
- په يو حساب زه هم انسان يم؛ خو هسې نه چي ته فکر کوې.
خوزه تنې ارته او خپله غاړه په خيرن توکر پاکه کړه.
ښځي خپل سګرت چي نور پای ته رسېدلی و، ها لور ګوزار کړ او ويې ويل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

- خې د وژلو نیت دې کړی!
خوزه وویل:
- د هغه څه د پاره چې ما وویل هو.
دا خبرې یې د تیاتر د کوم لوبغاړي په څېر وکړې.
خوزه ښځې ته ټوکې ښکاره شو، په زوره یې وخندل او په خندا کې یې وویل:
- دا نو وحشت دی خوزه! ته او د چا وژل؟ څوک څه پوهېږي چې ستا د چاغ مخ شا ته یو وژونکی پټ دی. هغه څوک چې له ما پیسې نه اخلي. هره ورځ یو ستیک را ته پخوي او دلته مې بوخته ساتي، چې یو څوک مې تر لاس ونیسي او بوځي. هغه کار وحشت دی خوزه، ما مه څوروه!
د خوزه وار خطا شو. لکه چې وځورېد. کېدای شي هغه وخت چې خندلي و، یو ډول غلطي یې احساس کړې وي.
خوزه وویل:
- ته نشه یې ګراني. ځه او ویده شه. لکه چې د څه شی د خوړلو حوصله نه لرې.
اوس ښځې نه خندل. جدي شوې وه او دواړه څنګلې یې په میز لګولې وې. سرې ته یې کتل چې لږ ها خوا لاړ. ښځې لکه څنګه چې په لومړي سر کې ویلي و (په پیپلیو، رښتیا دربانديې ګرانه یم!) بیا خبرو ته لار جوړه کړه او ویې ویل:
- خوزه!
خوزه ورته ونه کتل.
- تا ته وایم خوزه!
خوزه ورته وویل:
- لاړه شه کور ته. له خوبه مخکې په ځان سړې اوبه واچوه چې نشه دې والوځي!
ښځې وویل:
- خوزه رښتیا وایم. زه نشه نه یم.
خوزه وویل:
- نو لیونی شوې یې.
ښځې وویل:
- دلته راشه. غواړم تا سره خبرې وکړم.
خوزه ورو – ورو د خوښۍ او نه اعتماد په حالت کې وړاندې ورغی.
- لږ نور هم مخکې راشه.
خوزه ښځې ته مخامخ ودرېد. ښځه لږ مخې ته شوه او د سړي په وېښتانو کې یې ګوتې ووهلې. لکه چې مینه یې ښودله.
ویې ویل:
- هغه خپله خبره بیا راته وکړه.
خوزه وویل:
- څه غواړې؟
ښځې لا هم د ده په وېښتانو ګوتې وهلې.
ښځې وویل:
- تا وویل هغه څوک به ووژنې، چې له ما سره یې ووینې.
خوزه وویل: زه به هغه څوک ووژنم چې له تا سره وي. ملکي همدا زما خبره ده.
ښځې د ده وېښتان پرېښودل او ویې ویل:
- نو که ما څوک وژلي وي، ته به زما ننګه وکړې، هه؟
د خوزه غټ سر یې په ناز شا ته پرېښود او ویې خندل.
- ځواب راکړه خوزه. که مې څوک وژلي وي. د ما ننګه به وکړې؟
خوزه وویل:
-و به ګورو! ته ښه پوهېږې چې وژل دومره آسانه نه دي.
ښځې وویل:
- پولیس د هېچا خبره ستا هومره نه مني.
خوزه په ویاړ او ډاډ وموسېد. ښځه بیا په میز تکیه شوه.
- خوزه رښتیا وایم. قسم خورم چې ټول عمر دې دروا‌غ نه دي ویلي.
خوزه وویل:
-- زه په دې خبرو نه تېروزم!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ښځې وویل:
- زه همدا خبره کوم. پولیس تا پیژني. هر څه چې ته ووایې هغوی یې مني.
خوزه چې نه پوهېد څه ووایي، په ګوتو د میز په ټکولو پیل وکړ. ښځې لومړی بهر  او بیا ګړی ته وکتل او خپل غړ یې لړ پړ غوندې کړ. زړه یې غوښتل د لومړني سهارنی مېلمه له راتګه مخکې خپلې خبرې ووایي.
- خوزه د ما د پاره به یو دروغ ووایې؟ رښتیا وایم.
خوزه په کرکه ورته وکتل. لکه چې بېرېدلی و. د وېرې داسې یوه څپه وه چې د خوزه پښې یې سستې کړې.
خوزه وویل:
- ملکې ځان ته دې څه سرخوږی جوړ کړی؟
څنګلې یې په میز ولګولې. د ښځې د خولې د شرابو بوی یې تر پزې شو او ویې ویل:
- ملکې شوخي نه کوم، ځان ته دې کوم سرخوږی جوړ کړی!
ښځې بل لور ته وکتل:
-څه نشته. په دې خبرو هسې وخت تېروم !
او خوزه ته یې وکتل.
- او دا ومنه چې نور به نو د چا وژلو ته اړ نه شي.
خوزه اریان ځواب ورکړ.
- ما هېڅ وخت دا فکر نه و کړی، چې څوک به ووژنم.
ښځې وویل:
- نه ګرانه. زه وایم نور به داسې څوک نه وي، چې له ما سره لاړ شي.
خوزه وویل:
- ګوره اوس دې سمه خبره وکړه. زه هم همدا وایم چې ته ولې هر چا ته لاس  ورکوې. که دا کار بس کړې، زه هره ورځ یو غټ ستیک وړیا درکوم.
ښځې وویل:
- مننه خوزه. نور نه غواړم چا سره لاړه شم.
خوزه وویل:
- دوه ډوله خبرې مه کوه.
صبر یې پای ته ورسېد. ښځې وویل :
- دوه ډوله خبرې نه کوم.
خپل سر یې لړ میز ته ټیټ کړ او خوزه د دې غټ غټ تیونه ولیدل.
- سبا له دې ځایه ځم او ژمنه کوم چې بیا به دلته رانشم او له چا سره به لاړه نه شم.
خوزه پوښتنه وکړه:
- له کومه وخته دا فکر در پیدا شوی؟
ښځې وویل:
-لړ مخکې مې پرېکړه وکړه چې دا ډېر خیرن کار دی.
خوزه په میز خیرن ټوکر تېر کړ او ویې ویل:
- دا ډېر خیرن کار دی. ته باید ډېره پخوا په دې پوهېدلې وای!
ښځې وویل:
- مخکې هم لړ پوه شوې وم؛ خو اوس په دې ډاډه یم چې نارینه له ما سره کانګې کوي!
خوزه وخندل. سر یې پورته کړ چې ښځې ته وګوري. ښځې لاندې کتل او ټول مخ یې په اوښکو لوند ښکارېده. ښځې وویل:
- فکر نه کوې چې په یوه ښځه، لکه ما  چې څوک یې وژلې وي، کار ونه لري؟ هغه هم هغه ښځه چې نارینه وو ته کانګې ورولې!
خوزه په زړه سوي وویل:
- خبره باید ډېره غټه نه شي!
- کله چې ښځه له غرمې تر ماښامه، له نارینه سره دومره غاړه غړۍ وي، چې هېڅ صابون د نارینه بوی ځنې پاک نه کړي او نارینه په داسې حال کې چې جامې اغوندي، ورته ووایي چې تا کانګې وروستې. بیا څه ورته وایی؟
خوزه چې اوس ورته ځواب بې توپیره و او لا یې هم توکر په میز واهه وویل:
- ملکې دا هر څه تېرېږي. زه وایم چې دا د دې دلیل نه شي کېدای چې تا یو څوک مړ کړي وي، پرېږده چې ځي!
ښځې وغوښتل چې خپلې مخکنۍ خبرې بشپړې کړي. اوس یې غړ پوست او خوندور ښکارید.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

--که ښځه ووايي چې نارينه ته له دې سره پرېواته خوند نه ورکوي؛ خو نارينه د جامو اغوستن پرېږدي، بيا ښځې ته ورشي او وغواړي چې هر څه بيا پيل کړي، بيا څه؟
خوزه وويل: هېڅ سم سړی دا کار نه کوي!
ښځه لږ په غوسه شوه:
- که وکړي بيا څه؟ که هغه سم سړی نه وي او داسې کار وکړي او بيا ښځه داسې پوه شي چې نارينه له دې څخه کرکه کوي او ښځه وغواړي چې دا حالت پای ته ورسوي او خپله چاره د نارينه په ښځ کې ننباسي، بيا څه وايې؟
خوزه وويل:
--دا وحشت دی. له نيکه مرغه داسې نارينه نه پيدا کېږي چې دا کار وکړي، .
ښځې چې تولله په غوسه کې ډوبه وه، وويل:
-- که يې وکړ، بيا څه؟ فکر وکړه چې دا کار يې وکړ!
خوزه وويل:
-- ای ی ی ی. دا خو هومره بد کار هم نه دی!
او پرته له دې چې ځای بدل کړي. د ميز په پاکولو لګيا شو. اوس يې خبرو اترو ته ډېر پام نه کاوه.
ښځې خپلو وړه ګوته په ميز ووهله، ډاډه ښکارېده او ويې ويل:
- خوزه سم سړی نه يې؛ په څه نه پوهېږې!
خوزه وغوښتل چې ببرته پخلا شي.
- سمه ده، همداسې به وي لکه ته چې وايې!
ښځې چې لا هم د خوزه لستونی نيولی و. وويل:
- دې ته د ځان ساتل نه وايي؟
خوزه خواږه او تاوده ورته وکتل.
- هو، هو. د ځان ساتل!
او داسې يې ورته وکتل چې د پخلاينې تر څنګ يې زړه سوی هم درلود.
خو ښځه په غوسه وه. د نارينه لستونی يې پرېښود.
- د داسې يوې ښځې په دفاع کې درواغ وايې؟
خوزه وويل:
- دا به په...
ښځې پوښتنه وکړه!
- څه دا به؟
خوزه وويل:
- دا په ښځه پورې اړه لري.
ښځې وويل:
- دا به هغه ښځه وي چې ته د هغې د پاره مرې! نه هغه ښځه چې ته ورسره ځې. کټ مټ هغه ښځه چې ته د هغې د پاره مرې!
خوزه په لږ حوصله وويل:
- هوکې ملکې هر څه چې ته وايې!
خوزه بيا ليرې شو. پاس ګړی ته يې وکتل. شپږ نيمې نژدې وې.
فکر يې وکاوه چې لږ وروسته به رستوران ته خلک راشي؛ ځکه يې بهر ته وکتل. د هېندارو په صفا کولو بوخت شو. ښځه په همغه ځای کې ناسته وه او نارينه ته يې په داسې سترګو کتل، چې د غم څپې پکې لږ ښکارېدې. لکه يوه ډېوه چې نوره نو پای ته رسي او ويې ويل:
- خوزه!
خوزه په ژوره مينه او غم ښځې ته وکتل. نه د دې د پاره چې د ده غږ واوري؛ بلکه غوښتل چې دا ووينې. غوښتل پوه شي چې دا شته او تمه لري چې د خوزه په سترګو کې ننګه او خواخوږي ولولي.
ښځې وويل:
- تا ته مې وويل چې سبا ځم او تا هېڅ ونه ويل.
خوزه وويل:
- دا دې ونه ويل چې چېرې ځې؟
ښځې وويل:
- ډېر ليرې ځای ته ځم. غواړم داسې نارينه هلته نه وي چې ښځې ځوروي!
خوزه موسک شو:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پاړوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

- په رښتيا ځي؟
او د مخ رنګ يي بدل غوندي شو.
ښځي وويل:
- اوس نو ستا کار دی. که ته په دي پوه شي چي زه کله دلته راغلی يم. نور دا کارونه پريږدم او سبا سهار ځم. ته خوشاله شوې؟
خوزه په موسکه خوله سر وخوځاوه .
ښځي ورته وويل:
- که يوه ورځ راغلم او کومه بل ښځه مي وليده چي له تا سره خبري کوي او دلته زما په ځای ناسته وي، ما ته به ډيره رخه راشي.
خوزه وويل:
- که بيا راغلي، سوغاتونه به راوړی.
ښځي وويل:
- ډاډه اوسه. داسي ځای ته به لاړه شم چي تا ته يو کرار بيز( خرس) ومومـ.
خوزه موسک شو او خپل خيرن ټوکر يي، د ځان او دي ښځي تر مينځ داسي وښانده، لکه هينداره چي پاکوي. د ښځي شونډي هم په ناز او ملګرتيا سره بېلي شوې .
خوزه د کړکی په لور لاړ، ټوکر يي په اوږده هينداره تېره کړه او پرته له دې چي ښځي ته وګوري، وويل:
- ښه بيا څه؟
ښځي وويل:
- رښتيا رښتيا که چا وپوښتلي دا به ورته وايي چي زه پاو کم شپږ دلته راغلي وم؟
خوزه چي ښځي ته نه کتل، وويل:
- د څه د پاره؟
ښځي ځواب ورکړ.
- د پاره مهم نه دی. همدا خبري سمي زده کړه!
دا وخت د رستوران لومړنی مېلمه ور پرانست او د سالون پاس سر ته تېر شو. خوزه پاس ګړی ته وکتل. پوره شپږ نيمي وي.
خوزه مېلمه ته وکتل او ويي ويل:
- سمه ده ملکي. هر څه چي ته وايي. ما تل ستا زړه ساتلی دی.
ښځي وويل:
- نو زما ستيک پوخ کړه.
خوزه شا ته لاړ. غوښه يي په ميز کېښوده، د اور لمبه يي جګه کړه او ويي ويل:
- ملکي د مخه ښي خوندور ستيک به درته جوړ کړم.
ښځي وويل:
- مننه. پيپليو!
او لکه چي داسي يوې ناپېژندلي نړۍ ته تللي وې، چي ټول مخونه په ختو ککړ او ناپيژندنکي وي، په فکرونو کي ډوب شوه. په غوږو کي د هغه پخېدونکي مالګيني غوښي په بوی پوه نه شوه، چي په راز – راز مصالو کي اخته شوي وه. د دې غوښي خوندور بوی ټول رستوران په سر واخست.
ښځي سر پورته کړ، لکه چي مړه وي؛ خو بېرته ژوندۍ شوې وې. سترګي يي لوڅي او پټي کړې. خوزه يي وليد چي د اور لمبو يي مخ روښانه او سور کړی و.
- پيپليو!
- څه؟
ښځي پوښتنه وکړه!
- څه فکر کوې؟
خوزه ځواب ورکړ.
- په دې فکر کوم چي ته به هغه بېړ چېرته ومومي که نه!
ښځي وويل:
- هرومرو. خو ته هم بايد زما د مخه ښي سوغات راکړې.
خوزه دې ته وکتل او ويي ويل:
- ځو ځلي دا خبره وکړم. له دې خوندور ستيک پرته نور څه غواړې؟
ښځي وويل:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

- لړ نور!
خوزه وويل:
څه شی؟
ښځه موسکه شوه.
- يو پاو نور!
خوزه يو ګام په ځټ لاړ. پاس ګړی ته يې وکتل، هغه لومړنی مېلمه ته يې وکتل، چې لا هم هلته غلی ناست و. بيا يې غوښې ته وکتل چې اوس سره شوې وه. خوزه وويل:
- رښتيا رښتيا په هېڅ نه پوهېږم ملکې.
ښځې وويل:
- ماشومتوب مه کوه خوزه. دا خبره په ياد ولره چې زه د سهار په پنځه نيمو دلته راغلی يم!

پای

د ليکلو کال ۱۹۵۰
فارسی ژباړن: احمد ګلشيری
پښتو ژباړه ۱۵/۱۱/۲۰۲۵
عجمان - امارات


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ